
انجنیر داؤد اڅک

۲۱ مارچ ۲۰۲۴

## د نوروز تاریخچه پېښتنه سوه

نوروز د وري «حمل» د میاشتي لومړۍ نېټه ده چي په افغانستان او ایران کي د هجري شمسي کال لومړۍ ورځ او د کال پیل دی. نوروز د اذربائیجان او ازبیکستان په وړاندیز د ۲۰۱۰ کال د فیبروري په میاشت کي د ملل متحد لخوا په رسمیت وپېژندل سو او په یونسکو کي د ښکارهنگي (فرهنگي) میراث په حیث ثبت سو.

که څه هم نوروز په نورو ملکونو کي د نوي کال پیل ندی خو په ډیروهېوادو کي دغه جشن لمانځل کېږي او په ځینو ملکونو کي رسمي رخصتي هم وي. نوروز په شمسي نظام کي د وخت او اقلیم له لحاظه د اعتدال پیل او د شپې او ورځې برابري ده.




نوروز چي په بیلو سیمو کي په بیلو مراسمو لمانځل کیږی ډېر لرغونی تاریخ لري خو د اصلي ځای او وخت په هکله ئې اندونه بېل دي. د فردوسي په شاهنامه کي جمشید (یما) د نوروز بنسټ اینودونکی بلل سویدی او داسي حکایت کوي:

یوه ورځ جمشید په اذربائیجان کي د جمشیدي ارگ پر تخت باندي چي د پریانو او د بیانو لخوا وړل کیدی ناست وو چي د لمر وړانگي د جمشید پر تاج با ندي ولگیدي، وړانگو انعکاس وکړ او نړۍ ټوله نوراني سول، څو پدغه وخت کي خلک خوشحاله سول او دغه ورځ ئې د جهان روښانه، او نوې ورځ وبلل.

پدې هکله د شاهنامي څوه بیته:

چـو خـورشـید تـابان میان هوا　　نـشـسـتـه بـروشـاه فـرمـانـروا
جهان انجمن شد بر تخت اوی　　از آن بر شـده فره بـخت اوی
به جـمـشـید بر گوهر افشاندند　　مر آنروز را روز نو خواندند
سر سال نو، هرمـز فـروردین　　برآسـود از رنج تن، دل زکین

که څه هم چی جمشېد په شاهنامه کي د تهمورث زوی بلل سویدی خو ډنمارکئ تاریخ پوه (کریستنسن) پدې هکله وایي چي:(د تهمورث وروسته د ده ورور «جمشېد» پاچا سو چي په لومړي ځل ئي د نوروز جشن بنسټ کښېښود). تاریخ مختصر افغانستان. ۲۸ مخ.

اما د طبري تاریخ په ځینو متنونو کي کیومرث چي د پیشدادیانو لومړی پاچا وو د نوروز بنسټ ایښودونکی بلل سویدی. خو ځني روایات بیا زردښت د نوروز بنسټ ایښودونکی بولي. زردښت چي د وخت او ځای په هکله ئي نظریات بېل دي د مور نوم ئي دوغدو وو چي د فراهیم لور وه او د پلار نوم ئي پوروش اسپ وو چي د پتیرکتراسپ زوی او د سپین تمان د کورنی مشر وو. دوغدو په ځینو ژبو کي د نجلۍ په معنا او په ځینو ژبو کي د شیدو لوشونکي معنا سویده. پوروش اسپ د تور/ زوړ آس خاوند معنا ورکوي.

د نوروز په هکله یو روایت دا دئ چي نوروز د بابل په تمدن (بابلیانو) پوري اړه لري او وائي چي نوروز هغه وخت په اریآیي حوزه کي د جشن په صفت رواج سو کله چي ستر کوروش په کال ۵۳۸ مخکي تر میلاد بابل ونیوی. کوروش په همدغه کال کي د بابلیانو دغه رواج (نوروز) د ملي جشن په صفت اعلان کړ. ابوریحان البیروني هم تائیدوي چي نوروز د بابلیانو دی او د جمشېد په اړه ئي قول کټ مټ د « ویژه نوروز» له سایت څخه رانقلوم چي داسي ئي لیکلي دي:

(ابوریحان بیرونی» پرواز کردن جمشید را آغاز جشن نوروز می داند:«... چون جمشید برای خود گردونه بساخت، در این روز بر آن سوار شد، و جن و شیاطین او را در هوا حمل کردند و به یک روز از کوه دماوند به بابل آمد و مردم برای دیدن این امر به شگفت شدند و این روز را عید گرفته و برای یادبود آن روز تاب می نشینند و تاب می خورند ...»).

د کوروش او نورو هخامنشیانو په وخت کي دغه ورځ په ځانګړو مراسیمو لمانځل کېدل. د بیلګي په ډول په نوروز به نظامي خلګو ته ترفیع او انعامونه ورکول کیدل، بندیان به خوشي کېدل، حکومتي او شخصي کورونه به پاکېدل. ستر دارا (داریوش) دغه مراسم د جمشید په تخت کي لمانځل. د هخامنشانو په وخت کي نوروز د کب (حوت) د۲۱ مي څخه د غوایي (ثور) تر ۱۹ تاریخ پوري لمانځل کیدئ چي دغه د وخت تویېر تر ۴۶۷ قمري پوري ادامه درلوده خو وروسته دغه جشن د ترکي پاچا (ملک شاه سلجوقی) لخوا د حمل میاشتي په لومړئ ورځي پوري وتړل سو.

د اشکانیانو «پارتیانو» په وخت کي (۲۴۷ مخکي تر میلاد – ۲۲۴ میلادي پوري) هم نوروز لمانځل کیدئ.

ساسانیانو ( ۲۲۴ – ۶۵۱ م) هم نوروز په بیلو ډولو لمانځی. ساسانیانو به د نوروز څخه تقریباً یوه میاشت مخکي په مخصوصو ځایو کي ډول ډول حبوبات او غله جات (وریجي، غنم، اوربشي، نخود، لوبیا، اېرڼدن) وکرل او د حمل تر ۱۶ مي پوري چي به هر یوه ډېر بار کړی وو خلګو به په خپلو مځکو او پټیو کي هغه کرل، همداسي به خلګو په نوروز کي یو پر بل اوبه پاشلي. د ساسانیانو دریم پاچا «ائوهرمزد» په وخت کي به خلګو د نوروز په شپه اور بلاوه او خوښی به ئي کولي. اور په زردښتیانو کي پاک او مقدس شی دی چي نور شیان هم پاکوي ځکه نو زردښتیانو د اهورامزدا لپاره اور د سمبول په حیث کارولی دی، اغلباً به د اورپرستئ مفهوم په همدغه خاطر رامنځته سوی وي. خو د ساسانیانو د اتم پاچا «دوهم ائوهرمزد» په وخت کي بیا د پیسو ورکول رواج سول چي خلګو به په کورو کي یو او بل ته پیسي ورکولي.

**د نوروز پېښتني ریښه**

نوروز کلمه د پهلوي ژبي د nōgrōz څخه اخيستل سويده چي اصلاً د نوي ورځي په معنا ده. پهلوي ژبي د پارتي ژبي څخه اخيستې ده چي تلفظي شکل ئې nwklwc دی او پارتي ژبي له اويستايي ژبي څخه اخيستې ده.

دا چي د اويستا اصلي نسخه د (دريم دارا) او يونانيانو په جنګ کي سوځلي ده نو مؤرخين حدس وهي چي د نوروز اويستايي شکل به navaka raocah وي، ځکه چي نوروز د ډېر پخوا څخه په اريايي حوزه کي د (ناوا سردا) په نامه چي د نوي کال معنا ورکوي لمانځل کيدی. په منځنی اسيا کي هم د سغديانو او خوارزمشاهانو په وختو کي د (نا واسردا، نوسارد او نوسارچي) په نوم نمانځل کيدئ چي د نوي کال معنا ورکوي. په افغانستان کي هم د نوي کال په نامه نمانځل کيږي. پهلوي او پارتي يوه ژبه او د پښتو ژبي پخوانی ځانګه وه، صرف د پارتيانو او ساسانيانو په وخت کي ئې لهجه توپېر کوي. په پښتو کي اوس هم د نوګروز يا نوګروځ کلمه د (نوکريځي/ نوګريزي) په شکل سته چي خلګ په تېره بيا ښځي په نوي کال، جشنونو او اخترونو کي د ښايست په خاطر لاسونه او پښي په سرې کوي خو نارينه ئې په همدغه وخت (پسرلي) کي پر ښايست سربېره د صحت په خاطر هم استعمالوي او باور لري چي نوکريځي خونکي دي او د بدن ګرمي چي د ناروغيو سبب کيږي له وجوده باسي. غښتلی دليل چي د نوروز پښتونواله ثابتوي دا دئ چي په پښتو ژبه کي صفت تر اسم مخته راځي لکه: نوی کال، نوی کور، نوی کتاب... يعني نوروز فارسي يا دري کلمه نده. ځکه چی په فارسي او دري ژبو کي برعکس صفت تر اسم وروسته راځي لکه روز نو، سال نو، خانه نو... .

زما (ليکوال) د تازه پلټنو پر بنسټ پورته nwklwc /nōgrōz کلمه د سومري ژبي څخه اويستايي ژبي ته پاته سوېده ځکه چي د نوروز د لمانځلو تر ټولو پخوانئ ځای د سومريانو ټاټوبی بلل سويدی. يعني د نوروز په هکله تر ټولو لرغونی او نسبتاً مستند روايت د سومريانو له ښکارهنګ (فرهنګ) څخه را پاته دی. د سومريانو پر پښتونولی به وروسته باندارونه کوو خو د نوروز په هکله به په لنډ ډول ووايم چي سومريانو مخکي تر اريائيانو تقريباً لس زره کاله وړاندي د اوسني عراق په اور او اوروک ښارونو کي تمدن درلود چي اور ښار د سومري رنسانس مرکز بلل سويدی. اور چي سچه پښتو کلمه ده زما (ليکوال) د پلټنو پر بنسټ په دوه دليله دغه ښار ته منسوبه سوېده. يو دا چی دغه ښار ډېر ګرم او وچ ښار وو چي وروسته له همدې وجهي خلګ ځني وتلي دي. خو بل غښتلی دليل ئې دا دئ چي ابراهيم (ع) ته په همدغه ښار کي اور بل سو او ورواچول سو، څو وروسته دغه ښار په اور سره ونومول سو. د نوروز په هکله په سومري فلکلور کي يوه عامه اسطوره سته چي داسي حکايت کوي:

د سومريانو د وښو (ګياهان) شهيد سوی خدای (دموزی) نومېدئ چي د کښت او کروندې سمبول وو. دموزي ته د مرکزي اسيا، غربي اسيا او شرقي مديتراني ټولو قومونو (ايلاميانو،اورارتويانو، اساکو، لولوبيانو، کاسيانو... عقېده لرل او پدې باور ول چي دموزی به هر کال په ژمي مړ کېدئ او په نوروز به بيرته ژوندئ کېدی. په ژمي چي به مړ سو نو خلګو به په لېو لېو ژړل، چي دغه د خلګو اوښکي په سومريانو کي د باران سمبول وو. ژړا (بارانونه) چي به ډېر سول نو دموزی به بيرته د يلدا په شپه راژوندی سو، خو څلوېښت شپي به پټ وو. نو کله چی به دموزی وروسته په نوروز کي را ښکاره سو خلګو به خوشحالی کولې او جشنونه ئې نيول. يعني دغه ورځ به ئې يوه خاصه ورځ بلل او په ځانګړو مراسمو ئې لمانځل.

دا چی دموزي به څلوېښت شپي ځان نه ښکاره کاوه دغه وخت (۴۰ شپي) په بيلو فولکلورو کي بېل بېل منعکس سويدی. لکه چيله/ څيله، څلوېښت شپي عزاداري (غم شريکي)، د څلوېښتو غوايانو قرباني کول، چيهل ځيني، چهيل ستون، چهيل دختران، څلوېښتي... يعني د يلدا شپه او څيله هم پښتني ښکارهنګ (فرهنګ) دی. لنډه دا چي د البېروني په شان نورو تاريخپوهانو هم د نوروز اصلي ټاټوبی بابل بللی دی. د سومريانو د وښو (ګياهانو) خدای (دموزي) په

اړه یو روایت دا دئ چي دموزي پرستان یعني هغه خلګو چي د دموزي پرستیش ئي کاوه په دموزي ملقب سول. زما (لیکوال) په ګمان لکه یوناني هرودت چي د خپل کتاب (تاریخ) د ۷ جلد ۵۸ ،۶۶، ۶۷ مخونو کي د ماد پاچا (خشایارشا) په لښکرو کي ګنداهاریان، ساکاتوی، دادیکان او پکتویس پښتانه بللي دي همداسي به اوسنی شریفي قبیلي لکه مموزي، مندوزي... همدغه لرغوني پښتانه دموزي (سومریان) وي.

اوس مهمه دا چي نوروز په یوه ځانګړي قوم یا هیواد پوري اړه نلري بلکه دا نړۍ وال ښکارهنګ (کلتور) دی چي تقریباً پر اسیا سربېره په اروپا او نوره نړۍ کي هم په لړ توپیر سره لمانځل کېږي. خو اهل تشیع ئي ځکه ډېر مقدس بولي چي د دوئ په اند نوروز د امام زمان د ظهور ورځ ده. په ایران کي د سوري چهارشنبي مراسم د نوروز څخه یوه هفته مخکی اجرا کیږي، همداسي د الفه په نوم مراسمو کي خلګ ځي د مړو یاد کوي او په عین ډول شیریني، میوې او شنه ګیاه پر د سترخوان باندي ایږدي خو دا دواړه مراسم د نوروز سره کوم تاریخي اړیکي نلري.

نوروز د اسلام وروسته د امویانو او عباسیانو په وخت کي ندی لمانځل سوی. خو د طاهریانو څخه تر نن ورځي پوري بیله د طالبانو له واکمنیو څخه نوروز په شانداره ډول په افغانستان کي لمانځل کېدی.

**سرچیني**


- تاریخ مختصر افغانستان. علامه حبیبي
- ایران یا ارن. اوجالان ساولان.
- تمدن د سومریانو څخه پیل کېږي. ساموېل کرامر
- سومریانو تمدن د لاسه ورکړ. پاول کولینس
- از اسطوره تا تاریخ. ډاکتر مهرداد بهار
- تاریخ طبري : محمد بن جریر طبري . ترجمه ابو علی بلعمی.
- تاریخ هرودوت: هرودوت. ترجمه وحید مازندرانی. تهران: انتشارات فرهنگستان ادب و هنر ایران، ۱۳۵
- گات‌ها، قدمی ترین قسمتی از نامه مینوی اوستا: پور داود ابراهیم . تهران: انتشارات اساطیر، نامعلوم.
- خراسان بزرگ مهد آیین زرتش: کابلی مهدیزاده. چاپ اول. مشهد: نشر نوند، ۱۳۸۱.
- تاجیکان، تاریخ قدیم قرون وسطی و دورهٔ نوین: غفوروف باباجان. جلد اول و دوم .دوشنبه: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، ۱۳۷۷.
- دین‌های ایران باستان : نیبرگ، هنریک ساموئل . ترجمهٔ سیف‌الدین نجم آبادی. چاپ سوم. تهران. مرکز ایرانی مطالعهٔ فرهنگ‌ها، ۱۳۵۹.
- نوروز در نشیب و فراز تاریخ: ادینه اسفند یار
- نوروز در ازبکستان: اکرموف الهام
- ویژه نامه نوروز


۲۰-۳-۲۰۲۴